# New Directions

## The Learning & Employment Service for Reading

Pashto

**د نیو دایرکشنز ، یا د نوې لاربښوني اداره ـ د زده کړې او کار لټوني خدمتونه د ریډنګ په ښار کښې:**

د نیو دایرکشنز اداره دا لاندني پارت ټایم کورسونه وړاندې کوي:

د انګریزي زده کړه د هغو خلکو لپاره چې په نورو ژبو خبرې کوي .
هنر او لاسي کارونه
بدني او روحي روزنه
پخلی اومشروبات
مشورې اورهنمای
ډیجتل عکاسي
انګریزي او ریاضي
د کالو فیشن او ډیزاین
کور او تفریحي چارې
اطلاعاتي تکنالوژي (کمپیوټر)
ژبې ، په شمول د اشارې ژبه
فردي وده او پرمختګ

**د انګریزي زده کړه د هغو خلکو لپاره چې په نورو ژبو خبرې کوي**

د نیو دایرکشنز اداره د ریډنګ ښار د ګڼ شمیر ګروپونو او نورو ادارو په مرسته هڅه کوي چې د انګریزي ژبې کورسونه د ورځني ژوند د چارو د پرمخ بیولو او د کار پیدا کولو په هکله پرانیزي.

ایا انګریزي ستاسو دوهمه ژبه ده؟
ایا تاسې غواړئ چې خپله انګریزي تقویه کړئ؟
موږ په خپلو ټولو انګریزي کورسونو کې د تابعیت مسله په نظر کې نیسو.
که تاسې غواړئ چې د انګلستان تابعیت تر لاسه کړئ نو زموږ کورسونه به تاسو سره د تابعیت اخیستلو د پاره د لازمو شرایطو په لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي .

تاسې باید چې خپل پاسپورت له ځانه سره راوړئ ، موږ تاسې په کورس کې بې له هغه نه شو شاملولی.

**ESOL Enrolment Sessions**

**South Reading Centre**
13.30 -15.30  Wednesday 14 January 2009

**West Reading Centre**
09.30 – 12.30  Friday 16 January 2009

که دولت له تاسي سره مالي مرسته نه کوي ، نو تاسي بايد چي د کورس مصرف خپله ورکړی .
که له دولت څخه مرسته تر لاسه کوی ،يا دا چي ستاسي عايد لږ دی ، نو د هغي مرستي سند او يا داسي سند چي ستاسي عايد وښيي له ځانه سره راوړی .

که تاسي له بهر څخه د زده کړې لپاره راځی ، نو ستاسو د کورس بيه به جګه وي . تاسي لطفا خپل کوچنيان د ځانه سره د نوم د ثبتولو دفتر ته مه راولی

موږ به تاسو څخه امتحان واخلو ، تر څو پوه شو چي ستاسو څومره انګريزي زده ده . دا ازموينه به تر دريو ساعتو پورې وخت ونيسي .

موږ تاسو ته په دي کورسونو کي د شامليدو قطعي وعده نه شو در کولای ، خو خپله هڅه به حتماً کوو!

**د کار موندلو خدمتونه**

د نيو دايرکشنز اداره د ريډنګ په ښار کي اوسيدونکو لپاره د کار موندلو په هکله يو لړ مرستي او لار ښوني په وړيا ډول سره برابروي .

د کار موندلو په باب مرستي او مشورې
د سي وي ( د کار او زده کړې لنډه تاريخچه) د ليکلو په برخه کي مرسته
د کار موندلو وسايلو څخه د ګټي اخيستلو په لار کي مرسته
د کار موندلو ورکشاپ

د نيو دايرکشنز د اداري هدف دا دی چي لويانو او کورنيو ته د زده کړې او کارموندلو زميني چي د ريډنګ ښارد اوسيدونکو اړتياوې پرې پوره شي ، برابرې کړي .

**د اضافه معلوماتو د پاره د نوي لارښوني لاندني مرکزونو ته ولاړ شی:**

**Central Reading Centre**
Thames Tower
37 – 45 Station Road
Reading
RG1 1LX

**North Reading Centre**
School Lane
Caversham
RG4 8HX

**South Reading Centre**
Northumberland Avenue
Reading
RG2 8DH

**West Reading Centre**
Wilson Road
Reading
RG30 2RW

که تاسي په انګريزي نه پوهيږی نو کولای شی چي د ځانه سره مو ملګری يا د کورنی يو غړی چي انګريزي يې زده وي راولی . د نيو دايرکشنز اداره کولای شي چي تاسو سره د ريډنګ کونسل د ترجمي د دفتر له لارې هم مرسته وکړي .لطفا د نيو دايرکشز سره په لاندنی نمره تماس ونيسی :

0845 842 0012

يا لاندني ويب سايت ته مرجعه وکړی :

www.newdirectionsreading.co.uk

New Directions
The Learning & Employment Service for Reading
Reading Borough Council